




# د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانی » ليکنه

د نشرنيته : 3 فبروری 2024 میلادی

# د ژوند هدف!

ژوند د څه د پاره دی؟
که ژوند بی کاري وی، نو مرګ څه شی دی؟
ژوند واسطه ده ، او که غايه او هدف؟
ژوند ښه دی، او که مرګ؟
زما په فکر ډیر ژوندی دي چی د نورو ژوندیو برخه خوری، بالعکس ډير داسی خلک مړه شول چی د هغو د ژوند د ګټو او فائده و څخه تر اوسه خلک استفاده کوي.
حقيقتاً چی د ژوند په راز هر څوک نه شی پوهيدلی!
ژوند يوه لوبه ده ؛ په دی لوبی کښی سر بيره په منډو او ترړلو په سلهاو او زرهاو هلی او ځلی هم شته دی.
نو ژوند نه بايد په عادی او سرسری نظر و نه کتل شي ، او نه دومره بايد د غور وړشي چی د يو با افتخاره مرګ نه مهم وګڼل شي.

د ژوند هدف:
ځيرنه ، تجربه او مشوره د ژوند مزيت زياتوي!
جنبش او حرکت ، جديت او فعاليت ، د ژوند معنی ده!
نو لازمه ده چه:
ـ انسان په سالم منطق او طريقه ، د الهی نعماتو نه په ښه او په تعادل توګه خوند او لذت واخلي.
ـ په عباد ، پرهيزګاري او نيکو اعمالو ، ځان د رستګاري خواته ورسوي.
ـ د اجتماعي پرمختګ او د بشريت د خير او سعادت په مقصد ، هلی او ځلی وکړي.

زما عقيده: د انسان د رسالت غوښتنه داده چی ، خلک د حق او حقانيت په رڼا کی ژوند وکړی او خپلی ويناوی، تعبير ، ليکنی ، کړه او وړه په همدغه اساس عيار کړی.

سعيد افغاني
کابل ـ ۱۳۵۶ هجري شمسي

ترتيب کوونکی : برهان الدين « سعيدی»

www.said-afghani.org ـ بارګشت به صفحه اصلی